# وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

# د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

## د اطلاعاتو او عامه اړیکو آمریت

# خبري بلوټن

# News Bulletin

۲۳میزان _سال ۱۴۰۱





# اخبار مهم

افغانستان - منطقه - جهان

## فهرست مطالب


عنوان — صفحه

د پکتیکا ولایت د مهاجرینو ښارګوټي تخنیکي ارزونه وشوه ---------------------------------------------------------- ۱

برنامه ارتقا ظرفیت برای کارمندان اداره امور مهاجرین باد غیس دایر شد--------------------------------------------- ۱

هلمند کې سلګونو کورنیوته د نغدي مرستو دوېش لړۍ پیل شوه ---------------------------------------------------- ۲

توزیع پول نقد برای صد ها خانواده در بلخ آغازشد------------------------------------------------------------- ۳

غورکې (۱۰۸) کورنیوسره نغدي مرستې وشوې ----------------------------------------------------------------- ۵

134خانواده در بدخشان بسته های غیر غذایی رادریافت نمودند ----------------------------------------------- ۶

د جوزجان ولایت د مهاجرینو ریاست کار کوونکوته د ظرفیت لوړونې په موخه روزنیز پروګرام ترسره شو ----------- ۷

مرز بلاروس-لتونی؛ انتقاد عفو بین‌المللی از بد رفتاری با مهاجران و تکذیب لتونی---------------------------------- ۷

فنلند ۱۰۵۰ مهاجر از جمله افغان‌ها را می‌پذیرد--------------------------------------------------------------- ۱۰

راپور: فرانتکس اژه سمندر کې د کډوالو په شا تمبونې په اړه معلومات پټ ساتلي------------------------------- ۱۲

بلغاریا کې ۲۶ سند نه لرونکي کډوال نیول شوي ------------------------------------------------------------- ۱٤

نجات ۵۳ مهاجر غیرقانونی در بودروم موغلا---------------------------------------------------------------- ۱۵

53مهاجر غیرقانونی سوار بر یک قایق بادبانی که توسط عناصر یونانی عقب رانده شده بود در سواحل بودروم شهر موغلا نجات یافتند ----------------------------------------------------------------------- ۱۵

د اسلامي امارت موخه په هېواد کې د تلپاتې ثبات ټینګښت او د ۴۰ کلن ناورین د ټپونو کوشیر کول دي ----------- ۱٦

# متن کامل اخبار

## د پکتیکا ولایت د مهاجرینو ښارګوټي تخنیکي ارزونه وشوه

د وزارت وېب پاڼه




د مهاجرینو چارو وزارت د پلاوي له خوا د تلې په (۱۸) مه د پکتیکا ولایت د مهاجرینو ښارګوټي تخنیکي ارزونه وشوه.

د پلاوي د معلوماتو پربنسټ د دغه ولایت د مهاجرینو ښاروګوټی تر اوسه پلان نه لري او په یاده سیمه کې دمېشتو یو قوم د حقوقي دعوې او ګواښ له امله ټاکلی شوی پلاوی په دې نه دی توانېدلی چې سیمې ته ولاړ شي.

سرچینې زیاتوي، چې په ښارګوټي کې یوشمېر خپلسري کورنه جوړ شوي او د یادې ستونزې د حل لپاره د اړوندو ادارو څخه یو ګډ پلاوی ته اړتیا ده.

## برنامه ارتقا ظرفیت برای کارمندان اداره امور مهاجرین باد غیس دایر شد

ویب سایت وزارت




هیأت اعزامی وزارت امور مهاجرین، برنامه ارتقا ظرفیت را برای کارمندان آمریت امور مهاجرین ولایت بادغیس به تاریخ۱۹ میزان دایر نمود.

در این برنامه شیوه تحریر گزارش، مکتوب، ارزیابی اجراآت، ترتیب پلان، بودجه، اجرای فورمهای مالی وحواله ها، ازطرف هیأت اعزامی وزارت، تدریس وبه سوالات شاملین برنامه پاسخ ارایه شد.

برنامه ارتقای ظرفیت کارمندان وزارت امور مهاجرین، طبق تفاهم نامه عقد شده با دفترUNHCR، ازطرف وزارت امور مهاجرین وبه کمک دفتر مذکور راه اندازی شده است.

## هلمند کې سلګونو کورنیوته د نغدي مرستو دویش لړۍ پیل شوه

دوزارت ویب سایت




**د ملګرو ملتونو دکډوالو اداري (UNHCR ) له لورې د هلمند ولايت د مهاجرينو او راستنېدونکو چارو رياست په همکارۍ د تلې په (۲۰) مه (۶۶۵) اړمنو بېځايه شوو کورنيوته د نغدي مرستو دوېش لړۍ پيل شوه.**

**په پام کې ده، چې هرې کورنۍ ته له سروې وروسته (۷۰۰) امريکايي ډالره نغدې ووېشي.**

## توزیع پول نقد برای صد ها خانواده در بلخ آغازشد

ویب سایت وزارت




**ریاست امورمهاجرین وعودت کننده گان ولایت بلخ از آغاز توزیع کمک نقدی برای ۸۴۷ خانواده بیجاشده ولسوالی خلم به تاریخ ۲۰ میزان خبرداد.**

**این کمک به هریک از خانواده مبلغ ۳۶۰ دالر امریکایی از جانب موسسه پاملرنه میباشد در شش دوره پرداخت خواهد شد.**

## غورکي (۱۰۸) کورنیوسره نغدي مرستي وشوي

دوزارت ویب سایت




د د ملګرو ملتونو دکډوالو اداري (UNHCR ) له لوري د غور ولایت د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو آمریت په همکاری د تلې په (۲۰) مه (۱۰۸) اړمنو بېځایه شوو سره نغدي مرستي وشوې.

یادې مرستي په څلور برخوکي دي، چې راستنېدونکو ته د کار موندني په برخه کې،چې (۲۰) کورنیو ته د کار موندنی په برخه کي سل زره افغانی، (۲۵) کورنیو ته د کوچني کاروبار په موخه (۵۰) زره افغانی، (۱۳) کورنیو ته د کار موندني په موخه (۶۰) زره افغانی، (۵۰) تنه ښځینه وو ته، چې د اوبدلو په برخه کار کوي (۲۴) زره افغانی نغدې ووېشل شوې.

## 134خانواده در بدخشان بسته های غیر غذایی رادریافت نمودند

ویب سایت وزارت




**ریاست امور مهاجرین وعودت کننده گان ولایت بدخشان به تاریخ ۲۰ میزان سال روان برای ۱۳٤ خانواده در ولسوالی جرم بسته غیر غذایی را توزیع نمود.**

**هریک از خانواده های یاد شده یک بسته مواد غیر خوراکی را که شامل ۱۵ قلم جنس تهیه شده از جانب موسسه MISSION EAST بود دریافت نمودند.**

## د جوزجان ولایت د مهاجرینو ریاست کار کوونکوته د ظرفیت لوړوني په موخه روزنیز پروګرام ترسره شو

دوزارت ویب سایت

**د مهاجرینو او راستنېدونکوچارو وزارت پلاوي د جوزجان ولایت د مهاجرینو چارو ریاست کار کوونکو ته د ظرفیت لوړونې په موخه د تلې د (۲۰مه روزنیز پروګرام ترسره کړ. د دغه روزنیز پروګرام په جریان کې د ذکر شوي ریاست کار کوونکو ته د مکتوب، وړاندیز،راپور، ، مالي فورمونو او یوشمېرمالي او اداري موضوعاتو په اړه د وزارت پلاوي خبرې وکړې او د ګډنوالو سوالونو ته یې ځوابونه وویل. د ویلو ده، چې د کار کوونکو د ظرفیت لوړونې روزنیز پروګرام د مهاجرینو چارو وزارت او د (UNHCR) دفتر د لاسلیک شوي هوکړه لیک له مخې د یاد دفتر په مالي لګښت د وزارت د پلاوي له لورې ترسره کیږي.**

## مرز بلاروس-لتونی؛ انتقاد عفو بین‌المللی از بد رفتاری با مهاجران و تکذیب لتونی

مهاجرنیوز



وزیر داخله لتونی، گزارش سازمان عفو بین المللی درباره بدرفتاری این کشور با مهاجران را رد کرد و آن را «اتهامات پوچ» خواند. او گفت تا کنون هیچگانه شکایتی در مورد استفاده از زور علیه مهاجران، ارائه و ثبت نشده است. سازمان عفو بین المللی در گزارش خود لتونی را به بازداشت‌های بدون دلیل، خشونت، عقب راندن غیرقانونی و «برگشت داوطلبانه اجباری» متهم کرده است.

گزارش سازمان عفو بین المللی که روز ۱۳ اکتوبر منتشر شد لتونی را متهم کرده است که «سیاست عمدتاً نژادپرستانه و تبعیض گرا» را در برابر مهاجران و پناهجویان در مرز این کشور با بلاروس اعمال می‌کند.

این سازمان از خشونت، بازداشت‌های بدون دلیل، عقب راندن‌های غیرقانونی و حتی شکنجه مهاجران توسط نگهبانان مرزی لتونی انتقاد کرده است.

شکنجه و بازداشت غیرقانونی

مهاجرانی که با تیم سازمان عفو بین المللی مصاحبه کرده‌اند از آزارهایی حکایت کرده‌اند که به گفته سازمان«در برخی موارد شکنجه محسوب می‌شود.» به گفته مهاجران، این اقدامات خشونت‌آمیز از سوی نگهبانان مرزی و «کوماندوها» و »نیروهای خاص ناشناخته وملبس با یونیفورم سیاه»، مسلح و نقاب پوش، در مناطق مرزی جنگلی و مراکز بازداشت اعمال می‌شده است.

در همین باره :<u>لتونی: آغاز ساخت حصار دایمی در مرز بلاروس</u>

عدنان، یک مهاجر کرد عراقی که درماه اکتوبر ۲۰۲۱ مدت دوماه را در مرز گذرانده است، به عفو بین المللی گفت: «آن‌ها با پا، اشیای برقی و چوب‌های بزرگ به من ضربه می‌زدند. وقتی آن‌ها به همه بدنم ضربه وارد می‌کردند من فریاد می‌کشیدم و ناله می‌کردم«.

اما وزیر داخله لتونی در پاسخ به پرسش مهاجر نیوز اتهامات بدرفتاری این کشور با مهاجران را رد کرد و آن را »اتهامات پوچ» خواند. او گفت که تا کنون هیچگانه شکایتی در مورد استفاده از زور توسط نگهبانان مرزی، از سوی مهاجران ارائه و ثبت نشده است.

عقب راندن از مرزها

سازمان عفو بین المللی همچنین موارد زیادی از عقب راندن «غیرقانونی» مهاجران به سوی مرز بلاروس را تذکر داده و گفته است که «مهاجران هفته‌ها و حتی ماه‌ها، در مرز، در جنگل گیر می‌افتادند و در حالی که در معرض سرمای شدید قرار داشتند، به صورت گروهی و مکرر، با خشونت، به سوی مرز بلاروس رانده می‌شدند«.

ذکی، یک مهاجر عراقی به این سازمان گفت: «مرا در این سو و آن سوی مرز بیش از ۱۵۰ بار رد مرز کردند. روزهایی بود که تا هشت بار رد مرز می‌شدم.» وزیر داخله لتونی در پاسخ به این گزارش‌ها می‌گوید که فرمان وضعیت اضطراری در مرز «امکان واقعی ورود قانونی به کشور از جمله برای درخواست پناهندگی را فراهم می‌کند.» او می‌افزاید که امکان درخواست پناهندگی یا حفاظت مشابه، در نقاط عبور مرزی و مراکز بازداشت خارجی‌ها در دوگاوپیلس وجود دارد.

بیشتر بخوانید :شورای اروپا عقب راندن مهاجران از مرزها را محکوم کرد

ممنوعیت درخواست پناهندگی در نقاط مرزی

به گفته وزیر داخله، در دوره وضعیت اضطراری، یعنی از ۱۱ اگست ۲۰۲۱ تا ۱۱ اکتوبر ۲۰۲۲، جمعاً ۱۹۵ تن از مرزهای مشترک بلاروس و لتونی اجازه ورود به کشور را یافته‌اند. از این رقم ۹۴ تن در سال ۲۰۲۱ و ۱۰۱ تن دیگر در سال ۲۰۲۲ وارد لتونی شده‌اند. او می‌گوید که تعدادی از مهاجران افغان، عراقی، سوری، سریلانکایی، ترک و ایرانی نیز به دلایل بشردوستانه پذیرفته شده‌اند.

وزیر داخله تاکید می‌کند که ارقام یاد شده به روشنی نشان می‌دهد که مقام‌های کشور توجه خاصی به وضعیت‌های فردی دارند و برای پیشگیری از تهدیدی که متوجه زندگی و صحت افراد است، اقدام می‌کنند.

این در حالیست که به گفته عفو بین المللی، درخواست پناهندگی در نقاط مرزی و بازداشتگاه دوگاوپیلس بعد از تجدید نظر در قانون اضطرار و تنها در ماه اپریل ۲۰۲۲ امکان پذیر شده است.

سازمان عفوبین المللی همچنان از موارد بازداشت مهاجران در مراکز غیر رسمی متشکل از خیمه‌ها، و پست‌های مرزی پیشرفته برای عقب راندن‌های غیرقانونی و شرایط دشوار این مراکز انتقاد کرده است. حکومت لتونی در پاسخ می‌گوید که این مراکز تنها به دلایل بشردوستانه مورد استفاده قرار می‌گرفته است.

## فنلند ۱۰۵۰ مهاجر از جمله افغان‌ها را می‌پذیرد

مهاجرنیوز



**مقام‌های فنلندی اعلام کردند که این کشور در چارچوب سهمیه سازمان ملل متحد ۱۰۵۰ مهاجر را در سال ۲۰۲۳ خواهد پذیرفت. در میان این مهاجران گروهی از افغان‌ها نیز هستند .**

**به گزارش رسانه‌ها، حکومت فنلند در نظر دارد که درسال ۲۰۲۳، در چارچوب سهمیه بندی سازمان ملل متحد، ۱۰۵۱ مهاجر را بپذیرد.**

**وزارت‌های داخله و عدلیه فنلند با انتشار خبرنامه‌ای گفته‌اند که در مجموع این کشور ۴۲۰ مهاجر سوریایی ساکن لبنان و ترکیه، ۲۱۰ مهاجر افغان ساکن ایران و ۱۶۰ مهاجر کانگویی ساکن زامبیا را می‌پذیرد.**

**Kiintiöpakolaisten vastaanotto on tärkeää kaikkein heikoimmassa asemassa olevien ihmisten auttamiseksi. Suomi ottaa ensi vuoden pakolaiskiintiössä vastaan syyrialaisia, afganistanilaisia, kongolaisia ja Libyasta evakuoituja. https://t.co/6AtwLLPbGx**

**— Krista Mikkonen (@MikkonenKrista) October 12, 2022**

**مقام‌های فنلندی همچنین گفته‌اند که ۱۳۰ مهاجر تخلیه شده از لیبیا به رواندا و ۳۰ مهاجر بدون تابعیت نیز سال آینده در فنلند پذیرفته خواهند شد.**

**در خبرنامه گفته شده که سهمیه پذیرش این مهاجران بر اساس پیشنهاد کمیساریای عالی سازمان ملل برای پناهندگان تعیین شده و فنلند همچنان پذیرش مهاجران در این برنامه را ادامه خواهد داد.**

**کریسا میکونین، وزیر داخله فنلند گفته است که کشورش از زنان و دختران افغان، اقلیت‌های جنسی، کودکان، مدافعان حقوق بشر، فعالان مدنی و سایر افراد نیازمند را خواهد پذیرفت.**

**مقام‌های فنلندی از سایر کشورهای عضو اتحادیه اروپا نیز خواسته اند که مطابق سهمیه، در برنامه پذیرفتن مهاجران شرکت کنند.**

**کمیسیون اروپا گفته است که در برابر هر مهاجر پذیرفته شده، مبلغ ۱۰ هزار یورو می‌پردازد.**

**به تازگی مقام‌های فنلندی گفته‌اند که تغییراتی را در قانون اقامت خارجی‌ها روی دست دارند تا زمینه را برای حفاظت موقتی مهاجران اوکراینی در این کشور فراهم کنند.**

**در همین زمینه :فنلند ۱۰۰ کودک خردسال را از اردوگاه های یونان می پذیرد**

## راپور: فرانتکس اژه سمندر کې د کډوالو په شا تمبوني په اړه معلومات پټ ساتلي

کډوال نیوز




د اروپا د جعل کارۍ پر وړاندې د مبارزې ادارې یا اولاف په خپل تازه راپور کې وایي چې د اروپا د پولي ساتنې ادارې یا د فرانتکس لوړپوړو چارواکو له یونان څخه ترکیې ته د کډوالو د شړلو په اړه معلومات پټ ساتلي دي.

د اروپا د جعل کارۍ پر وړاندې د مبارزې ادارې یا اولاف راپور پرون پنجشنبه د اکتوبر ۱۳مه د فراګ دېن شتات سایټ، شپیګل او لایټ هوز رپورټز له خوا خپور شو.

دغه راپور کې راغلي دي چې که څه هم د فرانتکس لوړپوړو چارواکو له یونان څخه ترکیې ته د کډوالو د کښتیو د ناقانونه په شا تمبونې په اړه معلومات درلودل، خو دغه معلومات یې پټې ساتلي او د یادو پیښو په هکله د پلټنو له ترسره کولو څخه یې ډډه کړې ده.

د اولاف څېړونکو د دغه راپور د جوړولو لپاره د رسنیو د راپورونو، ازادو سرچینو، د فرانتکس او د اروپايي کمېسیون سندونو څخه ګټه پورته کړې او له ۲۰ عیني شاهدانو سره یې هم مرکې کړې دي.

راپور کې راغلي دي چې د اولاف له خوا د ترسره شویو پلټنو پایلې ښیې چې «د فرانتکس پر وړاندې ادعاوې سمې دي.»

بیا ولولئ :<u>د اروپا د پولي ساتني اداري اژه سمندر کي سلګونه کډوال په شا تمبولی دي</u>

»ترميمي تدابير«

په ورته مهال فرانتکس نن جمعه د اکتوبر ۱۴مه اسوشيټد پرس خبري اژانس ته وويل چې دغه تخلفونه په «تېر» پورې تړاو لري. يادې ادارې زياته کړې ده چې د اولاف «د پلټنو پايلې جدي نيسي او د وضعيت د ښه کولو هڅه کوي.«

دغه سازمان ويلي چې د فرانتکس درېو کارکوونکو «جدي تخلفونه» کړي دي، خو د يادې ادارې مديريت د ستونزو د هوارولو لپاره «ترميمي تدابير» نيولي دي. د بېلګې په توګه، فرانتکس د جدي پېښو په هکله د راپور د ورکولو پروسيجرونو کې بدلون رامنځته کړی دی.

پخوانی راپور

د روان کال په لومړيو مياشتو کې د فرانتکس اجرايي مشر فابريس لګېري د اولاف راپور او د رسنيو د تحقيقاتو تر خپرېدو وروسته له خپلې دندې استعفا وکړه. دغه راپور کې ليکل شوي وو چې ډېری وختونه فرانتکس د کډوالو د شړلو پېښو په هکله د راپور ورکولو او د پلټنو له ترسره کولو ډډه کړې ده.

د اولاف د راپور له مخې، د ۲۰۲۲ د اګست په ۵مه د يونان ساحلي څواکونو د کډوالو يوه کښتۍ چې ۳۰ کسان پکې سپاره ول د ترکيې پر لور وشړله. هغه وخت د فرانتکس الوتکې د يادې پېښې ويډيو اخيستې وه، خو د پېښې په هکله د راپور د ورکولو پر ځای يې اژه سمندر کې خپل عمليات ودرول.

بیا ولولئ :<u>د ترکيې پر لور د مهاجرو د کښتيو شړنه: فرانتکس له بشري حقونو د سرغړونو په اړه ادعاوې ردوي</u>

د اروپايي ټولنې څېړونکو دا هم ويلي چې فرانتکس د اروپايي ټولنې له مسولو ادارو لکه د اروپايي کمېسيون او د اروپا د پارلمان له غړو او د اولاف له څېړونکو سره ناکره او يا جانبدارانه معلومات شريک کړي دي.

فرانتکس د اروپايي ټولنې د ۲۷ غړو په استازيتوب د اروپايي پولو د امنيت د ساتنې دنده لري. له پولو څخه په ناقانونه توګه د خلکو په شا تمبول د نړيوالو او اروپايي قوانينو څخه سرغړونه بلل کېږي.

## بلغاریا کې ۲۶ سند نه لرونکي کډوال نیول شوي

کډوال نیوز




**د بلغاریا امنیتي ځواکونه وايي چې نن جمعه د اکتوبر ۱۴مه یې د دغه هېواد پلازمېنه صوفیا کې ۲۶ سند نه لرونکي کډوال نیولي دي.**

**د بلغاریا امنیتي ځواکونو د دغه هېواد پلازمېني صوفیا په تزاریبرودسکا سړک کې د ۲۶ غیرقانوني کډوالو د نیولو خبر ورکړی دی. نیول شوي کډوال د سوریې، عراق او مراکش اتباع دي.**

**د ځایي رسنیو په حواله، دغه کسان به له تحقیقاتو وروسته د کډوالۍ ادارې یا د کورنیو چارو وزارت مراکزو ته واستول شي. چارواکو ویلي دي چې دوی به د هغه ادرس په هکله هم تحقیقات وکړي چې کډوال پکې موندل شوي دي.**

**د بلغاریا خبري اژانس نووینیت د کارپوهانو له قوله وايي چې له تېرو څو میاشتو راهیسې قاچاق وړونکي هڅه کوي چې کډوال صوفیا او یا په مستقیمه توګه د صربیا سره پولې ته انتقال کړي.**

**د یادولو ده چې د سپتمبر د میاشتې په پای کې د بلغاریا په څو سیمو کې د کډوالو د څپو د مخنیوي لپاره بېړنی حالت اعلان شوی و. هغه وخت د بلغاریا د کورنیو چارو وزیر اوان دمردژییف ویلي وو چې د دغې پرېکړې موخه «د سرحدي پولیسو د فعالیتونو اسانول او د خرابو سرحدي سړکونو رغول» دي.**

**د بلغاریا د کورنیو چارو زارت د شمېرو له مخې، د روان کال له پیل څخه د سپتمبر تر ۱۸مې نېټې پورې ۱۰۳ زره او ۹۹۸ مهاجرو له ترکیې څخه دغه هېواد ته د داخلېدو هڅه کړې ده چې دا شمېرې د تېر کال همدې مودې پرتله ۴-۳ چنده زیاتوالی ښيي .**

**بلغاریايي چارواکو د اګست میاشتې په وروستیو ورځو کې ویلي وو چې د دغه هېواد امنیتي ځواکونو بورګاس ښار ته نږدې ۱۴۱ افغان کډوال نیولی دي چې غوښتل یې په ناقانونه طریقه د بلغاریا خاورې ته داخل شي.**

**همدارنګه د بلغاریا د کورنیو چارو وزارت د سپتمبر په ۲۵مه ویلي وو چې د پنجشنبې ورځې په سهار دوه بلغاریایي سرتېرې هغه مهال ووژل شول چې غوښتل یې یو بس ودروي چې کډوال یې انتقالول.**

**بلغاریا پر بالکان لار پراته ده. ګڼ شمېر کډوال هڅه کوي چې اروپا ته د راتګ په موخه لومړی دغه هېواد ته ځان ورسوي.**

## نجات ۵۳ مهاجر غیرقانونی در بودروم موغلا

رادیوی صدای ترکیه

**53مهاجر غیرقانونی سوار بر یک قایق بادبانی که توسط عناصر یونانی عقب رانده شده بود در سواحل بودروم شهر موغلا نجات یافتند**



**در سواحل بودروم شهر موغلا، ۵۳ مهاجر غیرقانونی سوار بر یک قایق بادبانی که توسط عناصر یونانی عقب رانده شده بود، نجات یافتند.**

**بر اساس بیانیه فرماندهی گارد ساحلی، پس از دریافت اطلاعاتی مبنی بر حضور گروهی از مهاجران غیرقانونی در قایق بادبانی در منطقه بودروم، یک کشتی گارد ساحلی به منطقه اعزام شد.**

**اکیب‌ها ۵۳ مهاجر غیرقانونی را از قایق بادبانی نجات دادند.**

**مهاجران غیرقانونی پس از اتمام امور اداری به اداره مدیریت مهاجرت استان تحویل داده شدند.**

## د اسلامي امارت موخه په هېواد کې د تلپاتې ثبات تینګښت او د ۴۰ کلن ناورین د ټپونو کوشیر کول دي

باختر آژانس



د افغانستان اسلامي امارت د ریاست الوزراء سیاسي مرستیال مولوي عبدالکبیر د شمال زون له یو شمېر علماوو، قومي مشرانو او ځوانانو سره وکتل .په دې کتنه کې، د شمال زون یادو مشرانو او مخورو خپلې ستونزې او وړاندیزونه د ریاست الوزراء له سیاسي مرستیال سره شریک کړل. هغوی په هېواد کې د سرتاسري امنیت پر تأمین او د خپلسریو پر له منځه وړو خوښي وښووده او زیاته یې کړه، اوس د ملي یووالي تحکیم او د رغاونې او ثبات لپاره تر ټولو غوره فرصت برابر شوی دی، په کار ده چې ترې اعظمي استفاده وشي.

دغه راز، علماوو او مشرانو د سالنګ لویې لارې د ترمیم له امله مننه وکړه ویې ویل، امارت تر اوسه ډېر رغنده ګامونه اخستي او د نورو اړتیا هم ده. د ریاست الوزراء سیاسي مرستیال مولوي عبدالکبیر د یادو

مشرانو له وړاندیزونو په مننې وویل، چې د اسلامي امارت موخه په هېواد کې د تلپاتې ثبات ټینګښت او د ۴۰ کلن ناورین د ټپونو کوشیر کول دي. نوموړي زیاته کړه، اسلامي امارت د یوه مسؤول نظام په توګه ټولو افغانانو ته په یوه سترګه ګوري او هېڅ ډول قومي، ژبنی او سمتي توپیر ورته ارزښت نه لري.

درياست الوزراء سياسي مرستيال د خپلو خبرو پای کې ډاډ ورکړ، چې اړونده اداري به د شمال خلکو ستونزو ته رسيدګي وکړي.